# د پټې خزانې نثر ته يوه کتنه

په تيرو شمارو کښې مې د پښتو د ادب د نوي کشف سوي خورا مهم کتاب پر شاوخوا لږ څه څېړنه وکړه، او څنې ادبي او لغوي او تاريخي مزايا مې در وښوول، څکه چې ددې.مهم کتاب هره خوا د غور او تدقيق وړ ده، نو په دې ګنه کښې غواړم چې دنثر له پلوه ئې اهميت څرګند کړم، څکه چې دغه کتاب له دې لامله هم مهم دی، او ښايي چې دپښتو دنثر په تاريخ کښې ډېر ښه ځاي ونيسي، نو ددې دپاره چې دموضوع غوټې او غروړې ښه وسپړلې سي لږ څه به دپښتو دنثر تاريخ ته هڅه وکړم، بيا به نو دتاريخي څېړنې په سيوري کښې خپل مطالب ښکاره او روڼه کړم.

## د پښتو نثر تر ۱۰۰۰ ه دمخه :

د پښتو نثر خورا قديم او پخواني اثر چې تر اوسه زموږ لاس ته راغلي دی، هغه څو پاڼې دي چې دمرحوم سليمان ماکو د ورک کتاب

تذکره اولیاء څخه راپاته دي، او دا پاڼي زموږ دژبي د نثر لیکلـو زوړ او پخوانی ډول راښکاره کوي.

دمخه ترديې چي د سلیمان ماکو دکتاب څو پاڼي زما لاس ته نه وې راغلي، ټولو دا ګمان کاوه چي د اخوند درویزه نیم منثـوري لیکنـي د پښتو قدیم او زوړ د نثر سبک دی.

مګر وروسته چي د سلیمان ماکو د کتاب پـاڼي مـا ومونـدلې، او طبع او خپرې سوې دا خبره ورسره زباده سوه او څرګنده سوه، چـي د اخوند درویزه دمخه پښتنو د ژبي دلیکني دپاره یو خورا ښه سـبک درلود.

دسلیمان ماکو نثر که څه هم داسي نثر نـه دی، لکـه اوس چـي ئې موږ لیکو، مګر دژبي محاورې او اساس ته خو ډیر نـژدې دي، او دا ښکاره کوي، چي زموږ پخوانو پښتنو د (۶۱۲ هـ) پـه شـاوخوا کښـي دژبي ومحاورې ته نژدې نثر لیکـه، او مقفـي او مسـجع لیـک ئـې نـه درلود. مګر تاسي ته به ښه ښکاره وي، چي دمغولو تر دورې را وروسـته په پارسي نثر کښي هم یو خورا کرغېړن تصنع ګډسو، چي دپخوانۍ ساده او سلیسي انشـاء ښېګڼـي ئـې ټـولي ورکـي کـړې، او داسـي متصنعه انشاء رواج سوه، چي هغه ته نثر مسجع ویلي سـي، پـر پښتـو هم دې مضر تحریک اثر وکړ، او دپاړسو دمسـجعو اومقفـي انشـاوو په مقابل او تقلید کښي پیـر روښـان پـه خیرالبیـان کښـي تـر ۹۰۰ هـ وروسته یو دنثر لیکلو ډیر کرغېړن سـبک راوبوسـت، چـي جملـې او خبرې ئې مسجعي او مقفي کـړې، تـر ده وروسـته اخونـد درویـزه پـه مخزن اسلام کښي هغه سبک وپاله اوداسي ئې خپور کـړ چـي تـر درو څلورو سووکالو پورې ئې خلقو تقلید کاوه. لکه چي ما دمخه هم پـه یوه څېړنه کښي ښبلي وه لمړی سړی چي د ژبي دې نقص ته متوجـه

سو او دخیرالبیان ناوړه سبک ئې پرېښو، او دېخوانو په څېر ئې څه ولیکل دپښتو پلار مرحوم خوشحال خان وو، چې زامنو او لمسیو ئې هم دده سبک وپاله او تاریخ مرصع او پښتو گلستان غوندي آثار ئې په نثر وکښل.

څلوېښت کاله دخوشحال خان تر مرگ وروسته دکندهار په سیمه کښې یو بل زبردست لیکونکی او مؤرخ پیداسو چې دلیک یو روڼ او خوږ سبک ئې راویوست چې هغه نو محمد د داوؤد خان هوتک زوي ؤ، چې پټه خزانه ئې کښلې ده.

ددې غښتلي او گړندي لیکوال دسبک اثر موږ په وروستیو لیکونکو کښې هم په ښه ډول وینو، بلکه محمد هوتک تر ۱۰۰۰ هـ وروسته په دې درې نیم سوه کاله کښې دلیک د اوسني سبک لمړنی استاد گڼو، رښتیا خو داده چې د خیرالبیان ناوړه سبک د ورکولو دپاره خو خوشحال خان زیار وکېښ مگر ده ئې ټولي ناوړي نه سواي پرېښولاي نو څه دهغه تر اغېزې لاندي هم سو مگر د پټې خزانې لیکونکی په دې جهد کښې بریالی سو، او خپل نثر ئې د خیر البیان له ناوړو څخه سپېڅلی کړ، او له هغه جوغه ئې آزاد کړ.

## د محمد د نثر ښېگڼې :

محمد هوتک نثر له مسجعو او مقفي عباراتو څخه سادگۍ او بساطت ته ښه رانژدې کړ، او لکه چې ښایي محاوره ئې پر نثر غالبه کړه یعني د خپلو مطالبو په بیان کښې د نورو ژبو تر اغېزې نه سولاندي، مثلاً : سلیمان ماکو د جملو په تلقین کښې د عربو تر اثر لاندي ښکارېږي، او بیا خوشحال خان اوعبدالقادر خان او افضل خان او نور نثر لیکونکي د پارسو تر وړانگو لاندي دي، خو محمد

هوتک له دغو اغېزو څخه ډېر ځان ژغورلی دی. سړی چې دده نثر لولي نو داسي خيال کوي چې يو پښتون په ژبه راسره ږغيږي او قلم ئې پر محاوره اغېزه نه ده کړي.

زه دا نه وايم چې د محمد نثر له ټولو ناوړو څخه تش دی خونسبت نورو ليکوالو ته دده نثر سپېڅلی، غوره او تکړه ښکاري، دبيان قوت لري، او دمعناو په تصوير او ليک کښي ځان نه بايلي، د نورو ژبو اغېزه نه مني. يو لیکوال هغه وخت غښتلی او ګړندی بلل کيږي چې دليک تعابير ئې د ژبي د عنصري اصولو سره سم وي او دبيان او خرګندوني پر وخت ئې ځان داسي په واک وي، چې له نورو ژبو څخه کوم تعبير او د افادې لپاره استعاره نکړي، او لکه خوشحال خان چې وايي :

محتاج د نورو نورو نغريو سي
سړی چې خپله کتوه ماته کـــا

د خپلو محاوروي ښېګڼو په پرېښوونه د نورو تعابيرو ته په ليک کي اړ نه سي او دځان ادبي اړتياوي له خپلي ژبي څخه بشپړي کړي.

محمد هوتک تريوې اندازې په دې مهم کار کښي بريالی ښکاري او لکه نور دمخني ليکوال هر ځاي ا وهر ګړی پرديو تعابيرو او افادو ته کچکول په لاس ولاړ نه دی څوتوانيږي له دې ناوړو ځان خوندي کوي، او دګړندي قلم په مرسته خپل مطالب خواږه ، روان، جذاب او خونده ور ليکي.

د مثال په څېر دغه لاندي کرښي وګورئ :

مرحوم سليمان ماکو چې نثر ئې د قدماء دليک يوه نمونه ده، لکه چې دمخه مي وويل، له اوسنی محاورې څخه ډېر ليري نه دی، خو

بیا هم دمحمدهوتک درجې ته نه رسیږي، او دسلاست او روانۍ له پلوه ئې نثر نسبت محمدهوتک ته ترنځ اوبې واکه ښکاري. خو بیاهم دخیرالبیان له ناوړه سبکه ډېر ښه دی، وګورئ سلیمان خپل کتاب داسي شروع کوي :

"وایم حمد و سپاس دلوي خاوند، اودرود پر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم چي دی بادار د کونینو او رحمت د ثقلینو ، لوي لوي رحمتونه دي وي دهغه استازي پر آل او یارانو چي دواړه جهانه په دوي دی روښان. " (۱)

دې لیک ته چي موږ ګورو، که څه هم مسجع او مقفي نه دی، مګر کټ مټ د محاورې او خبرو اترو پر سیاقت هم ټیک نه دی، لیکونکي څه نه څه د نورو ژبو تر اغېزې لاندی دی، او داسي ځني ښکاري، چي خپل لیک ئې ټوله سرترپایه د ژبي پر خپل اصلي ډول او سیاق نه دی سم کړي خو بیا هم ډېر روښان او څرګند اولږ څه خوږ په نظر راځي.

وروسته چي خیرالبیان ولیکل سو که څه هم دا کتاب نثر دی. او نظم نه ګڼل کیږي خو بیا هم سړی دا نه سي ویلاي، چي دا نثر دی، ځکه ځیني جملې ئې دنظم رنګ لري، او دجملو په پاي کښي دقافیې حروف او اصول هم ساتي، مثلاً : دا ټوټې له خیر البیانه دي :

" ویلي دي سبحان، کب چي په اوبو کښي ګرځي مخي واوبو وته سي. هسي هر لورو ته چي وجاروزي مخ ئې وماته سي د ادمیانو"

" د کمی میاشت که یو کس ووینی روژه دي نه ماتوي ګوښي، که علت وي په اسمان، ګواهي دي نه قبولوي امام ، بیرون ددوه مېړه، او یایو مېره، دوې اورتي وي، که علت نه وي په آسمان، ګواهي دي نه قبولوي اما، بیرون دډېرو آدمیانو" (۲)

د خیرالبیان دسبک نمونه دغه وه چي لـه عمـومي محـاورې او دکلام له اوسني سیاقه ډېره لیري ده، او دغه سبک چـي دخیرالبیـان لیکونکی ئې غالباً مؤسس دی او تر ده دمخـه پـه دغـه ډول دبـل چـا لیک تر اوسه موږ نه دی لیدلی وروسته ئې د ډېرو لیکوالـو لـه خـوا استقبال وسو، او ترڅو پېړیو د پښتو دیني لیکونه په ټوله پښتونخـوا کښي په دغه ډول کېده.

مثلاً : اخوند درویزه چي تر (۱۰۰۰ ه) وروسته ژوندی وو، کـه څـه هم د خیر البیان د خاوند سخت دښمن او مخـالف وو خـو پـه لیـک کښي دهغه تابع او پیرو دی دا جملې وګورئ :

" امام عمر نسفي هسـي ویلـي میـرهن دي، چـي صـوفیان د حـق دوستان دي هم د زړه په پاک کردن دي (۳) "

که د فوائد الشریعه اوبابوجان او نورو نثرونه وګورو ټولـه دغسـي مسـجع او مقفـي او د تکلفـه او تصـنعه ډک دي، اوس بـه نـو د خوشحال خان د نثر یو څو جملې وګورو چـي دا ښکـاره سـي چـي دې مرحوم خان څنګه ځان له هغه ناوړه تقلیده ویوست او خپل نثـر ئې بیرته د محاورې اساس ته رد کـړ دا جملـې د خوشـحال خـان د کلیلې او دمنې له پښتو ترجمې څخه دي :

" پادشاه ووي چي په دې حکم کي له مـا خطـا وسـوه او خبـره پـه حال د قهر کي ځما له خولې وختله، ولي بایـده دي چـي تاپـه هغـه چاري کي دغه رنګ تامل په ځاي راوور، چي لایق د حال د ناصحانو دی (۴)"

وګورئ : دا نثر هم د نورو ژبو له اغېزې کـورټ او چرپـاک نـه دي خو د خیر البیان او اخوند درویزه نثر ته هم لږ ورته نه ښکاري، اما د سلیمان ماکو خواته مایل معلومیږي.

تر خوشحال خان وروسته د عبدالقادر خان خټک د پښتو گلستان نثر ، او د افضل خان خټک د تاريخ مرصع او د کليلې او دمنې نثر ، يوبل ته سره ورته دي، او ټول د خوشحال خان تعقيب او پيروي کوي.

مگر زموږ دپټې خزانې ليکونکى محمد د خپل مقتدر او گړندي قلم په مرسته هسي نثر ښکاره راباسي چي تر نورو ټولو ليکوالو په صفوت او سلاست او پښتني خصوصياتو کښي اوړي، او غالباً دپښتو د اوسني نثر موجد او لمړنى مؤسس بلل کيږي چي تر ده وروسته د احمدشاه بابا په عصر کښي پيرمحمد کاکړ او بيا د محمدزو په دوره کښي دوست محمد خټک چي د خوشحال خان له کورنۍ څخه وو او د کندهار په پاشمول کښي اوسېدى او وروسته مولوي احمدجان په پښور کښي دغه سبک ژوندى کړ او تر موږه پوري ئې راورساوه.

اوس تاسو د تېرو مثالو په څنگ کښي دپټې خزانې دغه جملې هم کښېږدى او وگورئ چي څه فرق او توپير لري او د محمد نثر څه ښېگڼي او مزايا په ځان کښي خوندي کړي دي؟

د کتاب ابتداء :

" حمد وثنا ده هغه خداي ته چي انسان ئې په ژبه او بيان لوړ کا، او تميز ئې ورکا له نورو حيوانانو، په نطق او وينا سره او خپل کلام پاک ئې نازل کا په افصح بيان سره چي هغه معجز او ابلغ دى، له کلامه دټولو بلغاء او فصحاء" (۵)

ديوه شاعر دحال په بيان کښي هسي وايي :

"عشقي ځوان دى او زړه ئې له لاسه ايستلى پخپل محبوب پسي ژاړي، زارى کا، گريانى کا، دردمن زړه لري، او سترگي د اوښکو ډکي لري، ميني هسي په اور سوى دى، چي له کوره کلي ورک وي،

سوزناکي بدلي لولي، او کله چي د دردمندانو په مجلس کښي کښيني مجلس ژړوي او غمجن زړونه پخپلو نارو غلبلو سوځي، زمانه دده پر ځواني افسوسونه کا، او عشق ئې جنون ته رسېدلی دی."(۶)

اوس نو تاسي وګورئ چي د محمد نثر څه ښېګنې لري او له خپلو اسلافو څخه ئې په څه شي کښي سبقت کړی دی زما په عقیده خو د محمد په نثر کښي دا خواص او ښېګنې سته :

۱. محمد لومړی سړی دی چي د ژبي نثر ئې د نورو ژبو له ډېره تقلیده وژغوره.

۲. نثر ئې د ژبي د ویلو او محاورې عمومي سیاق ته تر پخوانو ښه نژدې کړ.

۳. په لیکلو کښي سادګی او رواني، ته هڅه دده مغلق الفاظ او مشکل او سره ښېچلي تراکیب نه لري.

۴. تعابیر ئې خواږه او جملې ئې پرې پرې او لنډې دي چي ویونکو ته ئې وینه ګرانه نه وي.

۵. کله کله چي محمد د مقصد په تعبیر کښي کلمات له خپلو ځایو څخه سره اړوي نو دغه اړونه او سره تېر وبېر کول هم ډېر مستکره او کرغېړن نه ښکاري مثلاً : " نو ئې زه وغوښتم خپل دربار ته، او ماته ئې تشویق وکا" په دې ځاي کښي د محاورې سره سم باید داسي ئې کښلي واي :

" نو ئې زه خپل دربار ته وغوښتم او تشویق ئې راته وکړ" مګر سره ددې چي مؤلف خبري سره لومړی، وروستی کړي دي خو بیا ئې هم د خپل نثر متانت او خوږوالی نه دی ورک کړی.

۶. د محمد په نثر کښي ډېر لږ د نورو ژبو اغېزه ښکاري لکه د سلیمان ماکو په لیک کښي چي د عربي اغېزه ښه ښکاري او

خورا باهره ده د محمد په لیک کښي دپارسو نثر اثر ځای ځای څرګند دی.

دا وې د محمد هوتک د لیک او نثر ځني ښکاره ښېګڼې چې د ژبو د تکامل او تطور له اصله سره سم ئې په نصیب سویدي، که مورد ژبو د اوښتو اوبشپړتیا ناموس ته ځیر سو دا به ښکاره سي چې عصر او زمان لکه د انسان د ژوندانه ټول عواید چې اړوي او تغیر پکښي پېښوي دغسي هم ژبي د هري زمانې سره د محیط او احتیاج له پلوه اوښته مومي حتي ځیني ژبي مري، او ځیني نوي ژبي زېږي.

د مثال په ډول یو وار د پارسو ژبي نثر ته وګورئ لومړني د نثر آثار ئې د سامانیانو په دوره کښي زېږېدلي دي او د غزنویانو په عصر کښي ئې وده کړېده مګر ددغو دواړو دورو نثرونه شدیداً دعربي تر اثر لاندي دي، دبلعمي او بیهقي لیکونه که وګوری دعربي رنګ څرګند پکښي ښکاري، لکه دپښتون سلیمان ماکو نثر چې هم کټ مټ په هغسي رنګ دی وروسته د غزنویانو په آخر او د غوریانو په دورو کښي دمغولو تر یرغله یعني له (۵۰۰ تر ۶۰۰ ه) دپارسو نثر نسبتاً یو بل مستقل ډول موندلی دی، چې د فخرمدبر آداب الحرب او د منهاج سراج طبقات ئې نمائندګي کوي، دلته دعربي ژبي سیطره لږ سوېده، لکه چې په پښتو کښي د خوشحال خان تر عصره وروسته لیدل کیږي د مغولو تر تاړاک وروسته یو خورا نامانوس او ډېر کرغېړن د لیک سبک په پارسو کښي باب سو چې تاریخ وصاف او تاریخ معجم او دره نادره ئې نمونې دي، او په پښتو کښي کټ مټ د خیر البیان او اخوند درویزه سبک هغه ته ورته دی، چې اوږدې اوږدې مسجعي جملې او د تصنع او تکلفه ډک عبارات ئې پکښي موندلي دي، او د مقصد تر افادې ئې انشاپردازی ته زور ور کړیدی.

په پارسو کښې خو دغه غیر طبیعي او متکلف سبک د صفویانو تر پایه موجود وو، وروسته بیا ځیني لیکونکي راغله، او له دغو متکلفو او متصنعو لیکونو څخه ئې تره وکړه، بیرته ئې خپل نثر اصلاح او پر زاړه اساس سم کړ. په پښتو کښي هم لومړی خوشحال خان د اصلاح او سمون بیرغ لوړ کړ، او محمدهوتک هغه لا پسي هسک کړ، او دپښتو د اوسني نثر ولې ئې کښېښووې، چي تر ده وروسته پیر محمد او بیا د ۱۳۰۰ ه په حدودو کښي مولوي احمدجان ښه پسي اصلاح کړ، او دغه زموږ اوسنی لیک او انشاء هم د دوي د زیار نتیجه ده.

نو زه د پښتو د یوه نثر لیکونکي په ډول د خپلو اسلافو او پیشقدمانو اروا تل له خاونده خوښ غواړم ځکه که دوي موږ ته د کار ستې نه واي ایښي، او زیار ئې نه واي کښلی اوس به په نثر کښي زموږ قلم ګوډ واي، او ددې عصر له اړتیاوو څخه به ډېر لیري پاته واي.

خدای خو دي خوشحال خان او دده کورنی او بیا محمد هوتک او بیا مولوي احمدجان وبخښي، چي پر دې لار تر موږ دمخه تللي دي، او دلاري لوړي ژوري ئې راښوولي دي.

## لمن لیکونه


۱. پښتانه شعراء، ج ۱
۲. د هند د زړو آثارو مجله
۳. مخزن اسلام قلمي
۴. د را ورټي پښتو ګرامر
۵. پټه خزانه، قلمي ص ۱
۶. پټه خزانه قلمي ص ۶۵
۷. کابل مجله، ۱۳۲۲ کال، ۷ مه ګڼه، ۱ _ ۴ مخونه.